ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 4, (Oct to Dec 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-IV)urdu-09

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**عبدالوہاب**
ایم فل (پشتو) ریسرچ سکالر، پشتوڈیپارٹمنٹ، بلوچستان یونیورسٹی کوئٹہ
**ڈاکٹر نصیب اللہ سیماب**
پروفیسر، پشتوڈیپارٹمنٹ، بلوچستان یونیورسٹی کوئٹہ

# د راز محمد راز په نظم کي رومانويت

**Abdul Wahab ***
M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.
**Pro.Dr. Naseebullah Seemab**
Department of Pashto, University of Balochistan Quetta.

***Corresponding Author:**

## Romanticism in the Poetry of Raz Mohammad Raz

In this article, the inlays are poems of Professor Raz Muhammad Raz have been taken. Raz Muhammad Raz is among the poets of South Pakhtunkhwa who have their own unique style. His individual style is built within the framework of romanticism, because intellectual rebellion is revealed in his poems. He breaks the traditional frameworks of Pashto poetry in terms of intellectual references and presents his thoughts in a philosophical context. This is a characteristic of Raz Muhammad Raz poetry and gives him uniqueness in Pashto poetry.

**Key Words:** *Romanticism, pashto literature, poems, Literary stature.*

د ادبیاتو په تاریخ کي د خپل مافي الضمیر د اظهار لپاره پوهانو دا خبره باوري بللې ده، چي په دې لړ کي د نظم ډګر تر ټولو لومړیتوب په برخه لري، ځکه چي نظم تر نورو ټولو ادبي ژانرونو یا اصنافو مخکي د ادیبانو، شاعرانو او په ځانګړي ډول د ناظمانو د اظهار لپاره خپله غېږه غوړولې او د هغوی د زړه ږغ یې پخپله منځپانګه کي ځای کړی او تر اولسونو پوري د رسولو وسیله ګرځېدلی دی، چي د پښتو په لرغوني ادب کي یې هم څه نا څه نمونې او بېلګي موندلای شو، چي پټي خزانې خوندي کړي او راوړي دي، پر دې سربېره په شفاهي یا اولسي ادبیاتو کي یې هم لرغوني نمونې او چوکاټونه موندل کېږي، خو

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 4, (Oct to Dec 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-IV)urdu-09



د پښتو کلاسيک شاعرانو په دېوانونو کې د نظم برخه "که څه هم غزل نما يا د غزل په چوکاټ کې ليکل شوي نظمونه لري" خو لکه څومره چې ښايي؛ هغومره نه ده.

پورتنۍ خبره موږ ته دا باور هم راکوي، چې نظم په ادبياتو کې ډېره لرغوني سابقه لري، ولې چې په دې لاره کې يې د ادبي اظهار د وسيلې په توګه لومړيتوب په برخه دی، خو دلته موږ له خپلې موضوع سره سم په نظم کې رومانويت او بيا د هغوی په يادونه او تسلسل ساتلو سره په ځانګړې ډول د اروابښاد استاد راز محمد راز په نظم کې د رومانويت څرګونه ګورو.

پوهانو د ادبي هنري پړاوونو د بدلون او تحول زماني يا ادوار ټاکلي دي او په دې لړ کې يې و رومانويت ته تر کلاسيزم وروسته د را منځ ته کېدونکي بدلون او تحول پړاو ويلی دی، چې د رومانويت د دورې او اصطلاح يادونه په وړاندې شوو څېړکو کې شوې ده، دلته به د کلاسيکيت په شاليد کې د دې اصطلاح لپاره يوه حواله راوړو، چې دغه اصلاح کله او چېرې دود شوې ده:

> "يو اهمه نکته دا چې رومانويت او د کلاسيکيت اصطلاحات يو خو عموماً د ظاهرولو په تناظر کې او بل د انفرادي فن پارو او ليکوالو د ځانګړو خصوصياتو د را برسېره کولو په توګه کارول کېږي. حقيقت دا چې د کلاسيکيت اصطلاح اول ځل په مغرب کې و کارول شوه، دغه اصطلاح په اټلي کې په ۱۸۱۸، په المان کې په ۱۸۲۰، په فرانس کې په ۱۸۲۲، په روسيا کې په ۱۸۳۰ کې او په آخري کې په انګلستان کې په ۱۸۳۱ کې کارول شوې ده."
>
> (اياز، د انګليسي ادب تاريخ ، ۲۰۲۲ز، مخ ۲۳۴)

پوهانو د کلاسيکيت او رومانويت په اړه پر دې يادونه سربېره د کلاسيکي او روماني اصطلاحاتو د هيئت او کړۀ وړۀ په اړه هم يو شمېر غوښتني او لوازمات څرګند کړي دي، چې له موږ سره د کلاسيکي او روماني نظمونو په ټاکنه کې مرسته کولای شي. نوموړی اردو ليکوال محمد هادي حسين د سر هربرټ ګريرسن د کتاب Classical and Romantic د کتني يا مطالعي په رونا کې د دغه هيئتي ټاکني په اړه داسي ليکي:

> "کلاسیکی اور رومانی اصطلاحات کی تعریف کے بارے میں جو مباحثہ آج تک جاری ہے اس کا حل کبھی کبھی یوں پیش کیا جاتا ہے کہ ان کا مابہ الامتیاز ہیئت ہے۔ اس حل کے مطابق گوئٹے (Goethe) اور لینڈور (Landor) آرنلڈ (Arnold) اور ہیریڈیا (Heredia) جیسے

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 4, (Oct to Dec 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-IV)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

شاعروں کا لحاظ رکھتے ہوئے یہ کہا جاسکتا ہے، کہ ہم جب جدید زمانے کی کسی نظم کو کلاسیکی کہتے ہیں، تو ہمارا مطلب یہ ہوتا ہے کہ اس میں وہی ہیئتی تعین اور بے عیبی ہوتی ہے جو ہمیں سوفوکلیز(Sophocles)اور ورجل(Virgil)کے کلام میں اور یونانی مجسمہ سازوں کے تخلیقات میں ملتی ہے۔"

حسین، مغربی شعریات، طبع اول مارچ۱۹۶۸ء، صفحہ ۲۹۱)

ژباړه: "د کلاسیکي او روماني ګړنو (اصطلاحاتو) د پېژندني په اړه چي کومي وراشي تر اوسه پوري رواني دي، کله کله يې د هوارولو لاره داسي ورانديي کېږي، چي بېلوالی يې په کړۀ وړۀ سره کېږي. د همدې نظريې په رڼا کي د ګویټي Goethe او لینډور Landor آرنلډ Arnold او هیرېډیا Heredia غوندي شاعرانو په حواله او پلویتوب ویل کېدلای شي، چي کله موږ د یوې نوي زماني و یوه نظم ته کلاسیکي و وایو، نو مراد مو دا وي، چي په هغه کي هم هغه ټاکلي کړه وړه وي، چي له ویار (عیب) څخه ژغورلي او پاک وي، لکه د سوفوکلیز Sophocles او ورجل Virgil کلام او یونانیانو د پژو (مجسمو) رغوونکو پنځوني چي وينو. "
(آزاد، لوېدیځ شعریات، ۲۰۱۷ز، مخ ۱۵۸)

په پورتنۍ حواله کي موږ ته د کلاسیک نظم په اړه ښوول کېږي، چي کلاسیک نظم له هر ډول عیب څخه پاک وي او ادب څېړونکي له عیب څخه د پاک نظم په لړ کي د سوفوکلیز او وِرجل کلام او یا هم د یوناني مجسمه رغوونکو تخلیقات د بېلګي په توګه راوړي، چي پوهان يې له عیبه پاک او مثالي تخلیق ګڼي، چي موږ هم ورسره خپل کلاسیک ادب یا کلاسیکه ادبي شتمني پرتله کولای شو، چي د هغوی پر بې عیبه کېدا باندي د تولو امین وي. سر هربرټ ګریرسن دا هم زیاتوي، چي داسي وړتیا او ارزښت لرونکی نظم که څه هم په اوس کي ویل شوی وي، مانا د نوي زماني وي او پر دې سربېره يې د زاړه او لرغوني نظم لاره پاللې وي او که يې نه وي پاللې؛ دوی ورته د کلاسیک ویلو وړاندیز کوي. ولي زموږ موضوع رومانویت دی، چي له کلاسیکي خویونو او هیئت څخه یو ډول سرغړونه او د آزاد خیالۍ لوري ته تګ دی او په ځانله توګه د استاد راز په نظم کي د رومانویت څرګونه ګورو، چي د رومانویت د هیئت او لوازماتو په رڼا کي به يې لټوو. په دې لړ کي هم له موږ سره د نوموړی لیکوال سر هر برټ ګریرسن حواله مرسته کولای شي، چي د کلاسیک په وړاندي يې د

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 4, (Oct to Dec 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-IV)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

رومانوي هيئت تعين او ټاکنه کړې ده، محمد هادي حسين يې پخپل کتاب کې داسې راوړي:

"کلاسیک کے برخلاف رومانی فن کا بنیادی خاصہ یہ ہے کہ اس مین نفس مضمون ہیئت پر تفوق رکھتا ہے، بلکہ یوں کہنا چاہیئے کہ نفس مضمون خود بخود ہیئت کو ایک بے نام سی جاذبیت ، ایک دلچسپ ناہمواری، ایک غنائیت بلکہ ایک قسم کا جوش و خروش عطا کر دیتا ہے۔ کسی رومانی شاعر مثلاً ورڈزورتھ(Wordsworth) یا شیلے (Shelley) کو لیجیئے اس کے کلام میں جب تک الہام کا درجہ حرارت اونچا رہے اس وقت تک اعلی درجے کی صناعی اور فنی قدرت ہوتی ہے لیکن جہاں الہام کی کمی واقع ہوئی ہے، وہیں عبارت پھیکی اور بے مزہ ہو جاتی ہے۔ اس کے برخلاف جو شاعر کلاسیکی روایات کے پابند ہے، مثلاً ملٹن (Milton) اور سر ولیم واٹسن(Sir William Watson) وہ الہام کی کمی پر ہیئتی چابکدستی کا ملمع چڑھا دیتے ہیں۔"

حسین، مغربی شعریات، طبع اول مارچ ۱۹۶۸ء، صفحات ، ۲۹۱،۲۹۲)

ژباړه "له کلاسيک څخه اپوته د روماني هنر بنسټيزه ځانګړتيا دا ده، چې منځپانګه يې پر کرۀ وړۀ لوړتيا لري؛ بلکې داسې بـه و وايو، چې منځپانګه يې کرۀ وړۀ ته يو بې نومه جاذبيت، يو ډول غنائيت، يو ډول جوش او خروش او يو ډول زړه وړونکې ادا او نور څـه ور پـه برخـه کوي. روماني شاعر ورډزورتهـ Wordsworth يا شيلي Shelley بـه وګورو، د هغوی پـه کلام کې چې تر څو د الهامي تودښت کچه لوړه وي، تر هغو پوري د لوړي کچې رغوونکې او هنري واک ور پـه برخـه وي. خو چېري چې الهام کمبوت وکړي، هلته ليکنه مرامـه او بې خونده شي. له دې اپوته چې کوم شاعر د کلاسيکي روايتونو بنديزونه پـالي، لکـه ملټن Milton او سر ولیم واټسن Sir William Watson هغوی پـر الـهامي کمبـوت د کـره وړه د ګرنـديتوب، چسپاندي پوښ او آر خوروي."

(آزاد، لوېديځ شعريات، ۲۰۱۷ز، مخونه ۱۵۸،۱۵۹)

د اروابناد استاد د شعري ټولګو پـه نظميه برخه کې هم د يـو ډول جاذبيت څـرک احساسېږي، چې د لوستونکي ذهن او زړه لـه ځـان سره و ساتي، د هغه نظمونه پـه يو ډول غنائيت باندې معمور او اباد دي، چې د لوستونکي ذهن او زړه

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 4, (Oct to Dec 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-IV)urdu-09
ماخذ تحقیقی مجلہ

تـه د ډاډمنتيـا او اطمينـان خيـالي خـواږه ور پېـرزو کـوي. د استاد نظمونـه يـو ډول جوش او خروښ لري، چې لوستونکی پـه خيـالي فضـا کـي خـوښ سـاتلای شـي. د هغه نظم او انداز دومره توان او يو ډول زړه وړونکي ادا لري، چې په لوست يې د لوستونکي په ذهن کي يو زړه اېلوونکی/ غوړوونکی انځور را سربېره شـي، مانا د نوموړي د نظم په لوست و لوستونکي ته هم هغه روماني خوشحالي پـه برخـه کېږي، چـي د زمـان لـه ناکړدو څخـه ستومانوونکي نهيلـي او نـا اميدي ور باندي هوسا و ساتي او په غنائيت موندلو سره ژوند ته زړه ښه کړي.

د پورتنيو حوالو پـه څنـګ کـي استاد صـديق روهـي هـم د ادبيـاتو د ژور لوست په رڼا کي د ادبي پړاوونو ټاکنه تر سره کړې ده، په يـاده ټاکنـه کـي استاد هم تر کلاسيک وروسته د رومانتيسيزم پړاو يادوي او په دې باوري دی، چې کله شاعر او هنرمند د ټولني د ناروغـه اروا لپاره د درملني يا علاج وسيله نـه شـي موندلای او د سمونچارو لپاره ناوسـه شـي، نـو د خيال پـر وزرونـو سـپرېږي، د استاد په لاندينی حوالـه کي د يـوه رومانتيـک شـاعر خـوی بـوی او پـه شـعر کـي د هغه خيالي جهان، افکار، بېباکانه ډول اظهار، د هنر د خپلواکی لپاره هڅـي وينـو، استاد روهي د رومانوي شاعر د خيالي دنيا په اړه ليکي:

> "شاعر او هنرمند چي د ټولني د مريض روح لپاره د علاج وسيله نـه شـي مونـدلی او د اجتمـاعي اصـلاحاتو لپـاره پـه چـاره نـه شـي سنجولی؛ د خيـال پـر وزر سـپرېږي، پـه شـنو چمنونـو، سمسـورو بـاغونو، وچـو دښتو او مېرو، ګڼو ځنګلونـو، د اسـمان پـه لمـن، د شفق په سره ګرېوان او د تياري په ناپاياوه بحر کي د نسيم په شان سـرګردانه ګرځـي، خپـل ځانتـه د ښـکلا او جمـال خيـالي جهـان جـوړوي، شـاعر د خپلـي نامېدی او بـې وسـيله ګـۍ اوښـکي پـر ګرېوان بهوي، د مړو سره خبري کوي، د شپي له تياري سره راز و نيـاز کـوي، خپـل سـرکش او طغيـاني احساسـات او مالېخوليـايي افکار په بېباکانه ډول اظهاروي او له عقل څخه انتقام اخلي، شـاعر لـه ټولـو قيـدونو او زنځيرونـو څخـه ځـان آزادوي او د آزادۍ غلام ګرځي. دی غواړي، چي هنر آزاد کړي او "هنر د هنر لپاره" خپل شعار و ګرځوي. دغه نوی هنري تحول چـي د خيـال او آزادۍ پـه مدار څرخي؛ د رومانتيسيزم په نامه يادېږي."
>
> (روهي، ادبي څېړني، ۲۰۰۷ز ۱۳۸۶، مخ ۳۸۳)

د پورتنيـو يـو شـمېر حوالـو او يـادولو پـه رڼـا کـي بـه د کلاسـيکيت او رومانويت د دورې او پړاوونـو پـه څنـګ کـي د رومانويت د غوښتنو او لوازمـاتو په اړه هم خبره څه نا څه روښانه شوې وي. اوس بـه پـه همدې شـاليد کـي د استاد راز محمد راز د نظميه شاعرۍ په اړه خپل نظر وړاندي کړو.

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 4, (Oct to Dec 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-IV)urdu-09



موږ که په ټولیزه یا مجموعي توګه د استاد راز محمد راز د شاعرۍ او په ځانګړي ډول د هغه د نظمیه شاعرۍ په ژورلید سره خپله رایه قایمه کړو، نو په لوی زړه ویلای شو، چې د استاد په نظمیه شاعري کې د رومانویت پله درنه او بېخي ځرګنده ده، ولې چې د استاد راز په نظمونو کې و خپلو جذباتو پوره خپلواکي په برخه ده، چې د خپل زړه ږغ او د داخلیت اظهار یې په پوره توان او آزادانه ډول ځرګند شوی ښکاري، د رومانویت د لاري په پاللو سره یې د اظهار په وړاندي د هیڅ ډول قیوداتو یا بندیزونو خیال نه دی ساتلی، مانا د تخیل مکمله آزادي.. چې د استاد په شعر باندي و نه پوهېدونکو یا له اورېدلو سره سم پرېکړه کوونکو اذهانو ته بې لاري هم ښکاره شي.

پر دې سربېره استاد راز د خپل اظهار لپاره د دود شوو مخنیو چوکاټونو خیال هم نه دی ساتلی او د اظهار لپاره یې آزاد یا سپین شعر ته هم زړه ښه کړی دی، بل دا چې په په شعري منځپانګه یا نفسِ مضمون کې یې هم د مخنیو/ پخوانیو او یا هم د کلاسیکي رجحاناتو او ځینو ټاکل شوو قوانینو څخه د بغاوت تومنه او ځرک تر سترګو کېږي.

د استاد په نظمونو کې د فطري مناظرو دومره په زړه پوري ننداري تر سترګو کېږي، چې له فطرت سره د شاعر دلچسپي او مینه له ورایه تر سترګو شي، له فطرت سره د اړه لرونکو ننداړو او د هغه له توکیو لکه سمندر، لمر، مځکه، باران، ستوري، اسمان، وریځ، سپوږمۍ او نورو سره د زړه خواله او داسې نور مکالماتي انداز هغه رومانوي خوی دی، چې موږ یې د استاد په شاعري او په ځانګړي ډول په نظمیه شاعري کې په پرېمانه توګه وینو.

د استاد په شاعري کې ځای ځای د انسانانو او په خاصه توګه د خپل قام او ټولني د حقوقو ږغ او جذبه هم تر سترګو کېږي، خو فطرت او فطري مینه ته یې ډېره پاملرنه کړې ده، د نوموړي د جذباتو دنیا چې د تسکین په لټون کوم سفر کړی دی؛ هغه د عقل په تول تلل څه ګرانه خبره ښکاري.

هغه فطرت ته د ستنېدلو او په خیالي جهان کې د اوسېدلو په څنګ کې د تصوف نړۍ ته هم لاره کړې ده او په دې لاره کې یې تر خپل ځان د تېرېدلو پر ادعا کولو سربېره د ځان ملامتولو ذهن او زړه هم لرلی دی، ځکه خو وایي، چې:

ما پـــه زړه دویـــي وژلـــي نـــه ده خدایـــه!
تـــا پـــه دې مینـــه راکـــړې نـــه ده خدایـــه!
تاتـــه ځکـــه زمـــا د غـــم انـــدازه نـــه شـــي
تـــا د خـــدای مینـــه لیـــدلې نـــه ده خدایـــه!

(راز، د صلیب په دایرو کې مات وزري زاني ژاړي، ۱۹۹۹ز، مخ ۱۹)

ISSN(P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 4, (Oct to Dec 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-IV)urdu-09

دا د استاد راز په نظميه شاعري كي د رومانويت د ځرکونو په اړه يوه سرسري يا اجمالي يادونه وه، چي وروسته به يې د نظم په بېلا بېلو ټولګو لکه "اوشينيک ګاډس/ د ميني نهه ويشت نظمونه" "د صليب په دايرو کی ماتي وزري زاني زاړي" او په شعري ټولګه "خزان زما په اوښکو زاړي" كي له نظمونو څخه په حوالو راوړلو سره خپله خبره باوري کړو.

کتابیات


۱: ایاز، محمود،( چاپکال ۲۰۲۲ز) د انګلیسي ادب تاریخ اول ټوک، خپروونکي، سکام ادبي اکېډمي کوټه.

۲: حسین، محمد ہادی، (طبع اول مارچ ۱۹۶۸ء) مغربی شعریات، ناشر، مجلس ترقی ادب لاہور۔

۳: آزاد، محمد نعیم،( چاپکال ۲۰۱۷ز) لوېدیځ شعریات، خپروونکی، پښتو ادبي غورځنګ .

۴: حسین، محمد ہادی، (طبع اول مارچ ۱۹۶۸ء) مغربی شعریات، ناشر، مجلس ترقی ادب لاہور۔

۵: آزاد، محمد نعیم،( چاپکال ۲۰۱۷ز) لوېدیځ شعریات، خپروونکی، پښتو ادبي غورځنګ.

۶: روهي، محمد صدیق، (چاپکال ۲۰۰۷ز ۱۳۸۶ل.) ادبي څېړني، خپروونکی، دانش خپرندویه ټولنه پېښور.

۷: راز، راز محمد (چاپکال ۱۹۹۹ز) د صلیب په دایرو کي مات وزري زاني زاړي، خپروونکی، ناخرګند.